# پښتو نیولوګیزم او ژبپوهنه

خېړنوال رحیم الله حریفال

پښتو نیولوګیزم او ژبپوهنه

خېړنوال رحیم الله حریفال

# Pashto Neologism And Linguistics

Associate Prof. Rahimullah Harifal

2023

ISBN 978-9936-661-29-5

9 789936 661295

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونيت
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د لرغونو ژبو انستیتوت

# پښتو نیولوګیزم او ژبپوهنه

څېړنوال رحیم‌الله حریفال

## د کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** **پښتو نیولوګیزم او ژبپوهنه**

**لیکوال:** څېړنوال رحیم الله حریفال

**ایډیټور او مهتمم:** څېړنوال وجیه‌الله شپون

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د لیکلو کال:** ۱۴۰۱ل کال

**د چاپ کال:** ۱۴۴۴هـ.ق (۱۴۰۱هـ.ش)

**د چاپ ځای:** لایف ستار

**ISBN:** **۵ – ۲۹ – ٦٦١ – ۹۹۳٦ - ۹۷۸**

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

سرلیک مخ


د لارښود استاد نظر (څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ)................................أ
تقریظ (څېړنپوه مولاجان ټنیوال)................................د
تقریظ (څېړنپوه شریف الله شریف)................................ي
تقریظ (څېړنپوه دکتور سید محی الدین هاشمي)................................م
سریزه................................۱


## لومړی څپرکی


د موضوع شالید................................۷


## دوهم څپرکی

### په ژبه کې د نیولوګیزم په اړه د ژبپوهنې دریځ


لغت پېژندنه................................۲۶
ټرمینولوژي (terminologye)................................۲۹
د لغتونو ډولونه................................۳۲
مترادف لغتونه (synoyms)................................۳۲
دخیلې کلمې................................۳۵
یوې ژبې ته د نورو ژبو د لغتونو د راتګ لاملونه................................٤٤
د نیولوګیزم پېژندنه................................٤٦
نیولوجېزم که نیولوګیزم؟!................................۵۲
د لغت جوړونې لارې چارې................................۵۵
مورفولوژي................................۵۹
اشتقاق................................٦۰
ترکیب................................٦۱
ساده یا بسیط لغتونه................................٦۲

مرکب لغتونه ................................................................ ٦٣
د لغت جوړونکي ځانګړتیاوې...................................................... ٦٥
د لغت جوړونې او کارونې ځینې بنسټونه ...................................... ٦٦
ژبه او ټکنالوژي ................................................................ ٧٩
په ژبه کې د نیولوګیزم اهمیت ................................................ ٨١
په نورو ژبو کې د نیولوګیزم معادل اصطلاحات .............................. ٨٥
په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم اړتیا ............................................ ٨٦
په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم تاریخچه ........................................ ٩٢

## دریم څپرکی

### د ژبپوهنې له اصولو سره سم په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم تاریخي بهیر ته لنډه کتنه

د پښتو ژبې د نیولوګیزم په برخه کې انفرادي هڅې ............................ ١٠٣
د پښتو ژبې د نیولوګیزم په برخه کې د علمي مرکزونو او فرهنګي ټولنو هڅې..١٠٨
مرکه د پښتو (پښتو مرکه) .................................................. ١١٠
د کابل ادبي انجمن........................................................... ١١٣
پښتو ادبي انجمن ............................................................ ١١٣
پښتو ټولنه ................................................................... ١١٤
د پښتو ټولنې دندې .......................................................... ١١٥
انجمن اصلاح الافاغنه......................................................... ١١٦
انجمن ترقي پښتو ............................................................ ١١٧
پښتو اکېډیمي................................................................ ١١٧
د هېواد په نظامي برخه کې د نیولوګیزم د بهیر څېړل ........................ ١١٨
نیولوګیزم او د ژبې د طبیعي جوړښت څرنګوالی ............................... ١٢٤
د نیولوګیزم د دوام د بهیر څېړنه ............................................ ١٢٧

د نیولوګیزم ګټې ........................................................ ۱۳۰

## څلورم څپرکی

### د ژبې پر لغوي زېرمې باندې د نیولوګیزم اغېزه

د ژبې کره کول او نیولوګیزم ............................................ ۱۳۵
د ژبې د سوچه والي ډولونه ................................................ ۱۳۸
د ژبې علم او سوچه غوښتونکي .............................................. ۱۴۱
د پردیو کلمو ژباړه او بدلون نیولوګیزم بلل کیدلای شي؟............... ۱۴۴
د نویو جوړو شویو کلمو لیست، چې تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې منل شوې دي ....................................................................... ۱۴۸

## پنځم څپرکی

### پر ارخاییزم باندې د نیولوګیزم اغېزه

د ارخاییزم ( Archaism) پېژندنه ........................................ ۱۵۷
د ارخاییزم او نیولوګیزم تر منځ اړیکې .................................... ۱۶۰
په ارخاییزم کې د هېستورېزم (historism) د پروسې پېژندنه ........... ۱۶۲
د ارخاییزم په برخه کې ځینې شرایط او اصول.............................. ۱۶۴
پایله ........................................................................ ۱۶۷
وړاندیزونه .................................................................. ۱۷۱
مأخذونه ................................................................... ۱۷۳

## د لارښود استاد نظر

نیولوګیزم د تشریحي ژبپوهنې یوه له مهمو او د بحث وړ موضوعاتو څخه ده. اوسني وخت ته د ارتباطاتو او اړیکو عصر ویل کېږي، ارتباطي وسایلو ملتونه او هېوادونه تر بل هر وخت ډېر سره نږدې کړي دي، کله نا کله خو نړۍ ته د «نړیوال کلي» اصطلاح هم کارول کېږي. دې نږدېوالي د فرهنګونو یو پر بل اغېزې هم ډېرې کړې دي او ژبې یو له بل څخه اغېزمنې کېږي او دغه ارتباطات او د علومو پراختیا او انکشاف، وروسته پاتې ژبو ته له پرمختللو ژبو څخه په ډېره پیمانه لغتونه او اصطلاحات ورکوي، نو اړتیا ده چې د نیولوګیزم په برخه کې کار وشي او په دې برخه کې داسې اصول او کړنلارې وړاندې شي چې بیا د همدغو اصولو او اساساتو په رڼا کې داسې نوې ژبنۍ جوړونې وشي چې په ژبه کې د کلمو او لغتونو تشه ډکه کړي او په اسانۍ سره په ټولنه کې ومنل شي.

د یادولو وړ ده چې د نیولوګیزم په ډګر کې د څېړنو تر څنګ د علمي او تحقیقي بنسټونو له خوا عملي کار او هڅو ته اړتیا ده. د ژبپوهانو او د اړوندو څانګو د متخصصانو له خوا دې د ژبپوهنې د اصولو په رڼا کې نوې ژبنۍ جوړونې او ټاکنې وشي او د دولت له تائید وروسته دې د ځانګړو رسنیو له خوا د دودولو لپاره پروګرامونه او خپرونې جوړې شي.

دغه اثر، سریزه، پنځه څپرکي، پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست لري. څېړونکي له دود سره سم له لومړنیو خبرو وروسته د موضوع پر مبرمیت او اهمیت رڼا اچولې او د خپل ترسره کړي کار پر میتود یې خبرې کړې دي.

په لومړي څپرکي کې یې د موضوع په شالید خبرې کړې دي او په پښتو ژبه کې یې د نیولوګیزم په اړه پر ترسره شوي کار رڼا اچولې او په دې برخه کې یې لیکلي آثار معرفي کړي او د هغو پر مثبتو او نیمګړو اړخونو یې بحث کړی دی.

دویم څپرکی په ژبه کې د نیولوګیزم په اړه د ژبپوهنې دریځ ته ځانګړی شوی دی، د نیولوګیزم پر تعریف، ارزښت او اړتیا بحثونه شوي دي.

په دریېم څپرکي کې یې د نیولوګیزم تاریخي بهیر ته لنډه کتنه کړې ده او په نظامي برخه کې یې د نیولوګیزم بهیر څېړلی دی او د نیولوګیزم د دوام پر بهیر یې رڼا اچولې ده.

په څلورم څپرکي کې یې د ژبې پر لغوي زېرمه باندې د نیولوګیزم د اغېزو په اړه بحث کړی او د څپرکي په وروستۍ برخه کې یې د هغو نویو جوړو شویو کلمو لست چې تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې منل شوې دي راوړی دی.

د دې اثر په پنځم څپرکي کې په ارخاییزم باندې د نیولوګیزم د اغېزو په اړه رڼا اچول شوې ده. د ارخاییزم له پېژندنې وروسته د ارخاییزم او نیولوګیزم تر منځ په اړیکو بحث شوی دی.

له دې مختصرو خبرو وروسته د لارښود استاد په توګه د ښاغلي څېړندوی رحیم الله حریفال د اثر په اړه خپل نظر په لنډه توګه داسې څرګندوم:

ـ لیکوال وخت په وخت د موضوعاتو په اړه نظر را څخه اخیستی دی او په پای کې مې یو ځل بیا ټول اثر ولوست او خپل نظریات او هغه لارې چارې چې د څېړنې د بشپړتیا لپاره اړینې وې له څېړونکي سره شریکې کړې او په اثر کې له اړتیا سره سم اصلاحات راړول شول.

ــ په څېړنه کې یې له سیمه ییزې لهجه څخه ځان ساتلی دی.

ــ د لیکوالۍ اصولو ته یې پام کړی دی.

ــ د موضوعاتو په شننه او څېړلو کې یې له دقت څخه کار اخیستی او له موضوع څخه لرې نه دی تللی.

ــ که څه هم د نیولوګیزم موضوع په پښتو ژبه کې هم د نورو ژبو په څېر ګڼ بحثونه را منځ ته کړي دي او کله نا کله خو یې ځینو دانشمندانو د مختلفو دلیلونو

له املې مخالفت هم کړی، خو څېړونکي موضوع په اعتدال سره څېړلې، له افراط او تفريط څخه يې ډډه کړې او د علمي دلايلو په رڼا کې يې څېړنه بشپړه کړې ده.

زه د لارښود استاد په توګه د نوموړي د دې علمـي او فرهنګـي هڅـې سـتاينه کوم او ترسره کړی کار يې مثبت ارزوم او اثر يې ابتکاري ګڼم او څېړندوی رحـيم الله حريفال د دې اثر په بشپړولو سره د څېړندوی له علمي رتبـې څخـه د څېړنـوال علمي رتبې ته د ترفيع وړ بولم.

په درنښت

څېړنپوه دکتور خليل الله اورمړ

## تقريظ

دا يوه جوته او له شکه وتلې خبره ده چې بشري کلتور او انساني ژوند په يوه حال نه پاتې کېږي او د وختونو په اوښتو او تېرېدو سره تحول کوي. دا تحول يا بدلون به تر هغه پورې روان وي؛ تر څو پورې چې بشري ټولنې موجودې وي. ژبه د بشري کلتور خورا لوی او ستر ارزښت دی چې د ټولنيز بدلون او پرمختګ لوی آرشيف يې په خپله سينه کې ساتلی دی، تر موږ پورې يې رارسولی او راتلونکو نسلونو ته به يې هم ورليږدوي. ژبه هم د نورو ټولنيزو پديدو غوندې بدلون کوي او خپل ځان له دې اوږدې او پر له پسې لړۍ څخه نشي خوندي کولای.

ژبپوهنه د ژبې علم دی چې د ژبې جوړښت، تحول، پرمختګ او نور اړخونه تر مطالعې او څېړنې لاندې نيسي او بشري ټولنې ترې خبروي، تر څو د خپلو ژبو پالنې او روزنې ته پاملرنه وکړي، ځکه که چېرې ژبې ونه پالل شي ژوند، دوام او پايښت يې ټکنی کېږي او دا هم شونې ده چې له مخې و غړېږي او متروکې شي. خدای مه کړه که داسې وشي نه يواځې دا چې د بشري ټولنو کلتور، تاريخ او هر څه له منځه ځي، د څېړنو امکانات او چاپېريال هم نشي تر سترګو کېدای.

ژبپوهنه په هېڅ صورت داسې يوه بخوله نشي زغملای، ځکه نو د ژبو په هر اړخيزو څېړنو باندې تمرکز کوي او د ژبو ساتنې، پالنې او روزنې ته د عطف د ټکي په سترګه ګوري. دا علمي- څېړنيزه رساله همداسې کرېکټر لري، او ليکوال يې د هرې يوې برخې په څېړنه او د هر ټکي په سپينولو کې ډېره خواري کړې او «تش يې لور په لوټه نه دی تېره کړی».

دا علمي- څېړنيزه رساله پنځه څپرکي لري: لومړی څپرکی د موضوع شاليد ته ځانګړی شوی دی. په دې څپرکي کې يو شمېر داسې سرچينې يادې شوې دي چې د نيولوګيزم په باره کې لږ و ډېر مواد پکې خوندي شوي دي. د رسالې ليکوال دا سرچينې په نسبتاً مشرحه بڼه له پامه تېرې کړې دي.

دوهم ځپرکی «په ژبه کې د نیولوګیزم پـه اړه د ژبپـوهنې دریـځ» تـر سرلیـک لاندې پیل شوی دی. ژبپوهنـه پکـې پېژنـدل شـوې یـا دا چـې تعریـف شـوې ده. د ژبپوهنې د څانګو د پخواني وېش یادونـه پکـې شـوې ده او ویـل شـوي دي چـې نیولوګیزم د تشریحي ژبپوهنې موضوع ده. د همدغه ځپرکي په بهیر کې ویـل شـوي دي چې نیولوګیزم د یوې ژبې د بقـاء لپـاره اړیـن دی. زه د دې رسـالې د لیکـوال لـه څرګندونې سره موافق یم، خو شرط یې د پوهانو توافق بـولم. د دې ځپرکـي پـه یـوه برخه کې د لېکسیکولوژي یادونه هم شوې ده او په ترڅ کې یـې د نیولـوګیزم نومونـه د نیولوجېزم په شکل لیکل شوي ده. تر څو پورې چې ماته معلومـه ده د دې نومـونې په لیکنه کې«g» توری ډېر تر سترګو کېږي او د «j» توری که وویل د «g» غږ نه افـاده کوي. همدارنګه کله چې موږ «ګل» او «جان» په غربي الفبې لیکـو «g» او «j» تـوري یو د بل پرځای نشو کارولای. داسې نوري هم ډېرې نمونې پیدا کـولای شـو. کـه زه تېروتی نه وم هیله ده چې ګران استادان او څېړونکي دې ټکـي تـه پاملرنـه وکـړي. دا هم ویل شـوي دي چـې د نیولـوګیزم لـړۍ بایـد وپالـل شي، خـو د پوهـانو توافـق او ګډون اړین بلل شوی دی او فردي کړنې ګټمنې نه دي بلل شوې. زما په خیـال د دې ټکي یادول ښه دي، ځکه که پاملرنه ورته وشي د خپلسرۍ او د ګـډوډۍ مخـه نیـول کېږي او د ژبپوهنې په اصولو برابرې څېړنې ته لاره پرانیستل کېږي. دا هم ویل شـوي دي چې توري یا ګرافیمونه د ژبې اساس نه دی، بلکې اوازونـه دا چـانس لـري چـې اساس وشمېرل شي. ګرافیمونه د اوازونو څېرې او شـکلونه دي. د همـدې ځپرکـي په دوام کې د ویي او نومونې په جوړېدو او معنـوي توپیرونـو بانـدې هـم ګټـورې خبرې شوې دي او دواړه خـواوې د مشخصـاتو لـه مخـې سره بېلـې شـوې دي. دا څرګندونه د هغو کسانو سره چې نوې څېړنې پیلوي په دې برخـه کـې پـوره مرسـته کولای شي، په همدې ځپرکي کـې دا یادونـه هـم شـوې ده چـې ... یـواځې د هغـو ملتونو ژبې د قرض اخیستو څخه لرې پـاتې کېـږي چـې لـه نـورو ژبـو او ملتونـو سره اړیکـې نـه لـري. زه دلتـه دا یادونـه کـوم چـې پـه دې نـړۍ کـې هـېڅ ملـت

يا هېواد بې اړيکو ژوند نشي کولای او هېڅ يوه ژبه د نورو ژبو له اغېزو څخه خوندي نشي پاتې کېدای، همدا علت دی چې د نيولوگيزم د پروسې پالل يو مناسب فکټور بلل کېږي او که پاملرنه ورته ونشي ډېرې ژبې به د نه پېژندلو او پرديتوب له ستونزو سره مخامخې شي.

د همدې څپرکي په ترڅ کې د نيولوگيزم د پېژندنې په مورد کې گټورې څرگندونې شوي او دا يادونه هم په تکرار سره شوې چې نيولوگيزم دې د ژبپوهنې د اصولو له مخې و پالل شي. د نيولوگيزم د عامېدو او ټولنيز کېدو لپاره دا بسنه نه کوي چې يواځې په متونو کې ځای پر ځای او خوندي پاتې شي. نيولوگيزم بايد ټولنيز شي او د ټولنيز ژوند د سترې ورشو ټولې خواوې راخپلې کړي، د دې يادونې اهميت په دې کې دی چې په کلي ډول ژبه يوه ټولنيزه پديده ده. د ويي (لغت) جوړونې لارې هم په همدې څپرکي کې ښودل شوي او تر دې وروسته په مورفولوژي، اشتقاق او ترکيب باندې رڼا اچول شوې ده او ورپسې ساده او مرکب لغتونه هم په تشريحي ډول را پېژندل شوي دي. د همدې څپرکي په يوه اړونده برخه کې د لغت جوړونې او لغت کارونې بنسټونه په تفصيل سره ښودل شوي او مناسبه ليکنه وربادنې شوې ده دا په دې باندې دلالت کوي چې د دې رسالې ليکوال په څېړنه کې پوره برلاسی دی، په ژبه باندې د ټکنالوژي د اغېزو په برخه کې هم څرگندونې شوې دي او دا ويل شوي دي چې په دې ساحه کې بايده دي چې له تعادل څخه کار واخيستل شي. له دې سره يو ځای په ژبه کې د نيولوگيزم په اهميت باندې رڼا اچول شوې ده او دا يادونه هم شوې ده چې نيولوگيزم د يوې ژبې د خوندي ساتلو په غرض اړين دی او بايد پرېنښودل شي چې د نورو (پرمختللو) ژبو اغېزو ته لاس تر زنې کېنو او هر څه ته يې په خپلو ژبو کې ځای ورکړو. يو ډېر مهم ټکی چې د رسالې ليکوال نغوته ورته کړې ده هغه د نيولوگيزم د اصولو په رڼا کې د پوهانو له خوا د رسالو او کتابونو ليکل دي. زه د ليکوال له دې څرگندونې سره ځکه موافق يم چې په دې کړنې سره د نيولوگيزم اهميت په

ټولنه کې عام کېږي او خپلې ژبې ته د خلکو د پاملرنې لړۍ پرې پیاوړې کېږي. د دې څېړکي په وروستۍ برخه کې په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم اړتیا او همدا شان په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم تاریخچه تر سرلیکونو لاندې ډېره پرځای څېړنیزه لیکنه شوې او ښه علمي معلومات او وړاندیزونه پکې خوندي شوي دي او دا اغېزه هم پکې شته چې سړی دا رساله له پیل څخه تر پایه پورې په ژوره توګه ولولي.

د دې علمي ــ څېړنیزې رسالې د دریېم څېرکي په پیل کې ویل شوي دي چې ... په پښتو ژبه کې د بشپړتابه لپاره له دوو لارو څخه کار اخیستل شوی دی لومړۍ لار دا ده چې راغلیو پدیدو ته یې د خپل ژبدود او ریښو په اساس نومونه غوره کړي دي. بله لار یې دا ده چې پردي وییونه یې مفغن کړي دي. زما په خیال خو دا په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم د قدامت لوري ته اشاره کوي او ترې څرګندېږي چې لا ډېر پخوا دا ضرورت محسوس شوی و چې د خپلې ژبې نږه یا سوچه توکي باید هېر نشي. په دې څېرکي کې په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم په ډګر کې د ځینو پوهانو او ټولنیزو مؤسسو هڅې او کړنې په تفصیل یادې شوې دي. دا یادونه بې ګټې نه ده ځکه چې د یوې خوا د پوهانو له خوا د خپلې ژبې د ساتنې او پیاوړتیا د روحیې احساس ترې څرګندېږي او د بلې خوا د پوهانو له خوا د یوځای او ګډو هڅو پر دوام ټینګار پکې نغښتی دی. په همدې څېرکي کې په څېړنو، ژباړو او نورو برخو کې د ژبې طبیعي جوړښت ته په پاملرنه کولو باندې زور اچول شوی دی. لیکوال په دې برخه کې له اهمیت څخه ډک ټکي ته نغوته کړې ده، ځکه که چېرې د ژبو د طبیعي جوړښت توپیر ته پاملرنه ونشي- د لیکنې، څېړنې او ژباړې خوند پیکه کېږي او د مفهوم په رسولو کې ستونزې را مخې ته کېږي. د دې څېرکي په پای کې د نیولوګیزم په ګټو او هغه ته په اصولي چوکاټ کې په پرمخ بېولو باندې ټینګار شوی او دا ورڅخه ښکاري چې د نیولوګیزم لړۍ باید پسې وغځېږي.

ځلورم څپرکی د ژبې په ویپانګه باندې د نیولوګیزم اغېزه تر سرلیک لاندې پیل شوی دی او په لړ کې یې یادونه شوې ده چې نیولوګیزم باید د اصولو په چوکاټ کې پر مخ ولاړ شي او هېر نه کړای شي. په همدې لړ کې د نویو لغتونو په جوړولو کې د ژبې د خپلو توکو نه په ګټه اخیستلو باندې زور راوړل شوی دی. دا د دې معنا لري چې د رسالې لیکوال د نیولوګیزم د لړۍ د پاللو پلوي دی، خو د ژبپوهنې د پرنیسپونو هېرول ورته د زغم وړ نه دي. زه د نوموړي د دې نظر ملګری یم. د همدې څپرکي په اوږدو کې په پوریزم او نیولوګیزم باندې هم خبرې شوې دي او د دواړو په ډېر نږدیوالي باندې په زړه پورې رڼا اچول شوې ده.

په پنځم څپرکي کې په ارخاییزم باندې د نیولوګیزم اغېزه تر سرلیک لاندې ښه څېړنیزه لیکنه شوې او د ارخاییزم اهمیت پکې له پامه نه دی غورځول شوی. د ارخاییکو موادو په پېژندنه او کارونه باندې هم ټینګار شوی دی. په همدې لړ کې یې د ارخاییزم او نیولوګیزم تر منځ په اړیکو باندې مثبتې خبرې کړې او په ارخاییزم کې یې د هېستوریزم پروسه په ښه ډول را پېژندلې ده. د څېړونکي دا کار د خورا ډېرې ستاینې وړ دی.

زه نور د دې علمي ـ څېړنیزې رسالې په برخه کې څه نه وایم او د ځانګړنو په اړه یې خپل نظر په لنډو ټکو کې داسې څرګندوم:

ــ د دې علمي ــ څېړنیزې رسالې منځپانګه ډېره بډایه ده او ډېر څه یې په خپله لمن کې رانغښتي دي.

ــ د رسالې ژبه روانه ده او په لوستلو کې یې سړی د ستړیا احساس نه کوي.

ــ د رسالې لیکوال د متن د مفاهیمو په جوتولو او تشریح کولو کې ډېره خواري کړې ده او په موضوعاتو باندې په اسانۍ سره پوهېدل یې ممکن کړي دي.

ــ دا اثر له څېړونکو سره په څېړنه او له استادانو سره د تدریس په لړۍ کې پوره مرسته کولای شي.

ـ زه د دې اثـر ليکـوال ته مبارکـي وايم، د څېړنوالـۍ د علمـي رتبــې مستحق يې بولم او د علومو اکاډمي له مقاماتو څخه هيله کوم چې اړوندو څانګو ته يـې د ژر تر ژره چاپولو لارښوونه وکړي، تر څو چې ګټه يې عامه شي.

**چې پر تاسو وياړي:**

**څېړنپوه مولا جان تڼيوال**

## تقریظ

به مقام محترم ریاست اکادمی علوم!

به جواب مکتوب نمبر ۲۲/۱۶ تاریخ ۱۴۴۳/۹/۴ هـ، ق شما احتراماً نگاشته میشود:

من پروژه علمی ـ تحقیقی محترم محقق رحیم الله حریفال را که تحت عنوان: (پښتو نیولوګیزم او ژبپوهنه) است به دقت مطالعه کردم که واقعاً دلچسپ و مفید می نماید؛ اما قبل از آنکه راجع به این اثر علمی چیزی بنوسیم، لازم میدانم در اطراف و جوانب این موضوع از نگاه زبانشناسی در جامعه لسانی، اندکی مکث نمایم؛ البته باید گفت که در همه جامعه لسانی، کار برد نیولوگیزمها از اهمیت ویژه برخوردار است و تماس روی این موضوع از نگاه مباحث زبانی بسیار مطلوب و اهم می نماید. از آنجا که زبان همیشه در حال تغییر و تحول بوده و در روند زمان واژه ها با انکشاف دانش و تمدن بشری نیاز به تحول و تطور دارد. با چنین اصل بعضی واژه ها جای خود را به واژه های دیگر داده و از دایره استعمال میافتد و در بستر قاموس لغات محصور میمانند که بر آن اطلاق واژه های قدیمی یا ارخیزم می توان کرد و در عوض نظر به تحولات مختلف فرهنگی، اجتماعی، اقتصادی، سیاسی و تخنیکی واژه ها و ترکیبات نو ظهور می کند که این کار زمینه شناخت واژه گانی را به نحوی از انحاء در امر انضمام و به وجود آوری نیولوگیزم فراهم می نماید؛ چنانکه مفهوم اصطلاح نیولوگیزم از نگاه زبانشناسی نیز محتوی این مفهوم می باشد؛ البته نیولوگیزمها در یک دوره به حیث نیولوگیزم عرض وجود می نماید و باگذشت زمان در دوره بعدی ویژه گی نیولوگیزم را از دست داده و شامل واژه های فعال و معمول می گردد و مانند واژه عادی مورد افهام و تفهیم قرار می گیرد. با آنچه در این مورد اشاره شد محترم حریفال با درک ارزشمندی به چنین یک موضوع مهم زبانشناسی پرداخته است که در آغاز کار

تحقیق خویش را با مراجعه به پسمنظر موضوع شروع می نماید و در این مورد به کتاب های مرتبط به این مبحث چون لغوی څېړنه، پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، لغت پوهنه، ژبپالنه، پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه، نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل، می پردازد و زمینه دریافت نیولوگیزمها را در آثار پیشنیان مورد مطالعه و ارزیابی قرار میدهد که این روش در اثرمندی پژوهشهای علمی مفید پنداشته می شود و نامبرده با مراعات چنین اسلوب بر ارزشمندی اثر خویش افزوده است.

فصل دوم آن ( په ژبه کې د نیولوگیزم په اړه د ژبپوهنې دریځ ) بوده است که در این مورد ارتباط نیولوگیزم به زبانشناسی تاریخی، زبانشناسی تشریحی و زبانهای دیگری که باهم ارتباط و نزدیکی دارد از نگاه نیولوگیزم مورد ارزیابی و مقایسه قرار داده شده است، همین گونه در باره ترکیبات لغات زبان پشتو که در اجزای ساختار نیولوگیزم بسیار مؤثر است با دید عالمانه نظر اندازی صورت گرفته است و ژرف اندیشی شان در این مورد قابل تمجید می باشد.

فصل سوم آن ( د ژبپوهنې له اصولو سره سم په پښتو ژبه کې د نیولوگیزم تاریخی بهیر ته لنډه کتنه ) بوده است که در این مورد زحمات و تلاش های پوهاند حبیبی، حسین کوثر و عبدالصمد خان اخکزی انعکاس یافته است و همین گونه از انجمن پشتو ټولنه، اصلاح الافاغنه، انجمن ترقی پشتو و معادل گرایی اصطلاحات نظامی در زبان پشتو یادآوری صورت گرفته است که باز هم نویسنده خواسته سعی و تلاش دانشمندان را در مسیر به وجود آوری نیولوگیزمها نشان دهد که این کار خیلی جالب و ارزشمند است.

فصل چهارم ( د ژبې پر لغوي زېرمې باندې د نیولوگیزم اغېزه ) حاکی از آن است که تأثیرات نیولوگیزم در توسعه لغوی زبان پشتو و لغات بیگانه و ترجمه آن مورد بررسی و تحلیل قرار داده شده است و ارزیابی نویسنده بر این منتج گردیده است که در امور ساختار و ترکیبات سچه سازی کلمات پشتو حالت اعتدال را در

نظر داشت تا مفاهیم واژه گانی و نیولوگیزمها برای خواننده مهجور و دشـوار جلـوه نکند که دقت شان در این مورد شایان قدر است.

محتوی فصل پنجم این اثر علمی که نمایانگر تأثیرات نیولـوگیزم در واژه هـا و لغات ارخیزم می باشد به صورت علمی و منطقی مورد بحث قرار داده شـده اسـت و مآثر گذاری آنها در مثالهای مختلف برجسته گردیده کـه نویسـنده بـا پشـتکار و توانایی زیاد به شرح این موضوع توفیق یافته است.

در فرجام نویسنده از این کار پر محتوای علمـی خـویش نتیجـه گیـری نمـوده اسـت و موضـوع را بـا پیشـنهاد هـای مفیـد بـه پایـان رسـانیده اسـت؛ لهـذا بـا در نظرداشت مزایای این اثر علمی، من محقق رحیم الله حریفال را مسـتحق ترفیـع بـه رتبه علمی معاون سرمحقق میدانم، چاپ و تکثیر کتاب شان را پیشنهاد نموده و از خداوند متعال موفقیت های بیشتری شان را آرزو می نمایم.

**والسلام**

**سرمحقق شریف الله شریف**

**آمر دیپارتمنت زبانشناسی**

## تقریظ

**د ژبو او ادبیاتو محترم ریاست ته!**

د ژبو او ادبیاتو مرکز د علمي غړي ښاغلي څېړندوی رحیم الله حریفال علمي ـ څېړنیزه رساله چې د څېړنوالۍ علمي رتبې ته د لوړاوي لپاره «پښتو نیولوګیزم او ژبپوهنه» تر سرلیک لاندې یې لیکلې د ۱۴۴۳/۹/۴ نېټې (۲۱/۱۵)ګڼه رسمي لیک په وسیله ما ته د تقریظ او نظر څرګندولو لپاره رالېږل شوې وه، د رسالې د منځپانګې له لوستلو وروسته خپل نظر په دې ډول څرګندوم:

د نیولوګیزم اصطلاح یا نوموږنه په معاصره ژبپوهنه کې د یوې ژبې لپاره د نویو ویيونو (لغاتو) د جوړونې د بهیر له پاره کارول کېږي. هره ژبه له څلور ډوله ویيونو څخه جوړه ده: ۱. اصلي کلمې، ۲. مستعارې کلمې، ۳. ترکیبي او ۴. اشتقاقي کلمې. اصلي کلمې خو په ژبه کې موجودې وي او مستعارې کلمې له نورو ژبو څخه ورته راځي، خو ترکیبي او اشتقاقي کلمې په واقعیت کې یو ډول نوې لغت جوړونه ده چې په ترکیبي او اشتقاقي ډول ترسره کېږي. یا د یو بل ویش او ډلبندۍ له مخې څلور ډوله ویيونه یا کلمې د یوې ژبې لغوي زېرمه یا ویيپانګه جوړوي؛ ګړودودي یا لهجوي ویيونه چې د یوې ژبې په بېلابېلو لهجو کې موجود وي، لرغوني یا آرکاییک ویيونه چې په زړو متونو کې وي، پور یا مستعار ویيونه چې له نورو ژبو یې اخلي او مصنوعي ویيونه چې په بېلا بېلو وختونو کې د بېلا بېلو اړتیاوو له مخې جوړېږي. دا چې ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده او لکه چې څرګنده ده هره ټولنه د نړۍ او ساینس له پرمختیاوو سره خپل پرمختیایي بهیر بشپړوي، دا پرمختیایي بهیر او نوښتونه د دې لامل کېږي چې په ژبه کې نوې کلمې جوړې یا وپنځېږي. دا چې دا په هره ژبه کې یوه طبیعي لړۍ ده چې وخت په وخت نوي لغتونه پنځوي او زاړه لغتونه له استعماله لوېږي. څومره چې په ټولنیز ژوند کې نوي بدلونونه را منځ ته کېږي ورسره په ژبه کې د لغت جوړونې بهیر ګړندی او ژوندی

کېږي، نو ځکه دا د ژبپوهنې له نظره ډېره مهمه او ارزښتناکه موضوع ګڼل کېږي او په ژبځېړنه یا ژبنیو مطالعاتو کې خاص ځای لري، همدې علمي ارزښت او اهمیت ته په کتنه د ژبو او ادبیاتو مرکز د لرغونو ژبو انستیتوت، په پښتو ژبه کې د معاصرې ژبپوهنې له نظره د نیولوګیزم څېړنه د خپلو څېړنیزو چارو په پلان او کړنلاره کې شامله کړې او «په پښتو ژبه کې منل شوی نیولوګیزم د ژبپوهنې له نظره» تر سرلیک لاندې یې د دغه مرکز د لرغونو ژبو انستیتوت علمي غړي څېړندوی رحیم الله حریفال ته د یوې پنځه کلنې څېړنیزې پروژې په توګه د هغې بشپړول سپارلي وو چې نوموړي د څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ په لارښوونه د تصویب شویو مفرداتو له مخې په پنځو څپرکو کې خپله علمي ـ څېړنیزه چار په دې ډول بشپړه کړې ده:

لومړی څپرکی د موضوع شالید ته ځانګړی شوی چې په کې څېړونکی د کره کتنې په ترڅ کې هغه آثار را پېژني چې په کې د دغې موضوع په اړه خواره واره بحثونه شوي او په پایله کې یې پر دغو آثارو او څېړنو د خپلې څېړنیزې چارې هراړخیز پوره والی او ښه والی ښودلی دی. په دوهم څپرکي کې د «په ژبه کې د نیولوګیزم په اړه د ژبپوهنې دریځ» تر سرلیک لاندې د لغت پوهنې په اړه په زړه پورې معلومات وړاندې شوي دي. د لغاتو بېلابېل ډولونه راپېژندل شوي او په دې برخه کې د لغت جوړونې په لارو چارو مفصل بحثونه شوي دي، بنسټونه یې بیان شوي، په ژبه کې د نیولوګیزم پر اهمیت او ماهیت هم رڼا اچول شوې او په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم لنډه تاریخچه له لوستونکو سره شریکه شوې ده.

په دریم څپرکي کې د ژبپوهنې له اصولو سره سم په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم تاریخي بهیر ته کتنه شوې او لومړی د پښتو ژبې د نیولوګیزم په برخه کې د ځینو اشخاصو انفرادي هڅې او په دوهمه برخه کې هغه ادارې او علمي مرکزونه ښودل شوي چې د پښتو ژبې د نیولوګیزم یا نوې لغت جوړونې په برخه کې یې کارونه کړي دي. په څلورم څپرکي کې «د ژبې پر لغوي زېرمې باندې د نیولوګیزم اغېزه» تر سرلیک لاندې د ژبې کره کول او نیولوګیزم، آیا د پردیو کلمو ژباړه او بدلون

نیولوګیزم بلل کېدای شي؟ او پر نورو موضوعاتو مستدلل بحثونه شوي او په پای کې د هغو نویو جوړو شویو کلمو، چې تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې منل شوي، لست هم وړاندې شوی دی.

پنځم څپرکی «پر ارخاییزم باندې د نیولوګیزم اغېزه» تر سرلیک لاندې د ارخاییزم په هر اړخیزې پېژندنې سربېره د ارخاییزم او نیولوګیزم تر منځ اړیکو او په ارخاییزم کې د هیستوریزم د پروسې پر پېژندنې باندې مفصل بحثونه کوي او په پای کې د ارخاییزم ځینې اصول او شرایط په لنډه توګه راپېژني. دغه څېړنه پر یوې مستدللې پایلې، څو غوره وړاندیزونو او د مأخذونو په لیکلړ پای ته رسېږي.

د څېړنیزې پروژې اهمیت او ماهیت ته په کتنه موضوع د مطالعې او څېړنې پراخه ساحه لري او لکه چې په شالید کې یې یادونه شوې په ځینو آثارو کې په ضمني توګه لنډې څرګندونې او یادونې پرې شته، خو ځانګړې څېړنه پرې نه وه شوې او نه پرې په پښتو ژبه او ژبپوهنه کې تیوریکي بحثونه شوي وو، نو ځکه څېړونکي ته د موضوع په باب د داسې آثارو او معلوماتي سرچینو ترلاسه کول، په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم د تاریخي بهیر مطالعه او ارزونه، د نوې ژبپوهنې په رڼا کې د دغه بهیر هر اړخیزه مطالعه او اوسنیو حالاتو کې د نیولوګیزم له پاره د افرادو او رسنیزو او نورو فرهنګي ادارو نه موجودیت او خپل سری او ګډوډی دا ټول هغه لاملونه دي چې څېړونکي ته یې د خپلې څېړنې د بشپړولو له پاره په بېلا بېلو بڼو خنډونه او ځنډونه را منځته کړي وو، خو دوی دا هر څه په سړه سینه زغملي، ډېرو باوري معلوماتي سرچینو ته یې لاسرسی موندلی، په دې برخه کې دمخه ترسره شوي انفرادي او د ځینو ادارو کارونه یې په غور کتلي، ارزولي او د خپلې پروژې له پاره یې هم تیوریک او هم عمومي معلومات تر لاسه کړي، هغه یې په تحلیلي بڼه د خپلې پروژې د بشپړولو له پاره کارولي او د موضوع څېړنیز حق یې ادا کړی او دا دی خپله څېړنه یې د دفاع تر درشله را رسولې ده. زه یې په دې لار کې ترسره کړی کار، هلې ځلې او د ستونزو او کړاوونو درانه پیتي ته اوږه ورکول او په دې لاره کې یې حوصله او زغم د ستاینې وړ بولم او د ترسره کړي کار په اړه یې خپله ارزونه داسې وړاندې کوم:

ــ سـره له دې چې موضـوع ډېره پراخـه او ځانګوره وه، هرې برخې جلا څېړنـه او سپړنه غوښتله، ليکوال د هغې هره برخه په خپلو هڅو تر جلا جلا څېړنـې او سـپړنې وروسته په ليکني مهارت راټوله او يو عمومي څېړنيز چوکاټ تـه يـې ور داخلـه کـړې ده.

ـ د څېړنيزې چـارې د بشپـړولو لپاره په هـره برخـه کـې تـرسره شـوي تحليلونـه او پرتلنې له منطقي تسلسل څخه برخمنې او په علمي اکاډميک معيار برابرې دي چـې د موضوع څېړنيز حق په ښه شان ادا کولی شي.

ــ مأخذونه او سرچينـــې يې باوري، پـه مناسبـــه توګـه ور څخـه علمـي اسـتفاده شوې او د اکاډميکې څېړنې د اصولو له مخې لومړی په مـتن کـې پـه نخښـه شـوي او هغه يې په لمنليکنو کې او بيا د ټولې څېړنې په پای کې له خپلو اړونـدو ځـانګړنو سره په الفبايي رديف او ترتيب راوړې دي.

ــ د ژبې او ليکـدود معيـار ته يې پوره پاملرنه کړې او ليک نخښې يې په مناسـب ډول کارولې دي.

ــ د ليکنـې ژبـه يې روانـه، له هر ډول پېچلتيا څخه ژغورل شوې او پـر ادبي معيـار برابره ده.

په دې څېړنه کې دې پورته يادو ښګېڼو او ځينو نورو ځانګړنو ته پـه کتنـه زه دغـه علمي څېړنيزه رساله مثبته او د څېړنې په اصـولو او اساسـاتو برابـره ارزوم، کـه ښـاغلي څېړندوی رحيم الله حريفال د دفاع او ترفيع نور شرايط پوره کړي وي، د څېړندوی لـه علمي پوړ څخه د څېړنوال علمي رتبې ته يې په دې څېړنيز کار د لوړاوي او ترفيـع وړ ګنم. دوی ته د لوی څښتن تعالی له درباره د لا برياليتوبونو هيله او د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز ته يې د چاپ او خپراوي وړانديز کوم.

**په درنښت**

څېړنپوه دکتور سيد محی الدين هاشمي

کابل احمد شاه بابا مېنه

۱۴۰۱/۲/۳

## سریزه

نیولوګیزم د یوې ژبې د لغوي زېرمې (Vocabulary) له څلورو برخو څخه یوه برخه (۲۵ ٪) جوړوي او درې نورې برخې یې (لهجوي کلمې، د خپلې ژبې زاړه لغتونه یا ارخایزم او پور لغتونه) دي چې (۷۵٪) کېږي. نیولوګیزم که له یوې خوا د یوې ژبې د ویونکو ورځنۍ اړتیا ده، له بلې خوا بیا د یوې ژبې د پرمختګ لپاره مهم ډګر ګڼل کېږي، ځکه که د یوې ژبې ویونکي وغواړي چې له اوسني پرمختللي پېر سره خپله ژبه برابره کړي او د ټکنالوژۍ په دې چټکه بدلېدونکې نړۍ کې د خپلې ژبې لپاره مناسب ځای ومومي، نو د نیولوګیزم په برخه کې کار او زیار ډېر مهم دی.

د نیولوګیزم د دوام بهیر، په پښتو ژبه کې موافقو او مخالفو بحثونو ته لار پرانیستې ده. ځینو ژبپوهانو او څېړونکو دا نظر وړاندې کړی دی چې نیولوګیزم تر ډېره بریده سیاسي اړخ لري او یا یې هم د پښتو ژبې د نیولوګیزم بهیر د یو شمېر کسانو د شخصي سلیقو زېږنده بللې ده. نظریات او رأیې به مختلفې وي او د پښتو ژبې د نیولوګیزم بهیر پر خپل ځای له ډېرو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ دی، خو دا به هم د انصاف خبره نه وي چې د ځینو وړو ستونزو په سر موږ د وخت له مهمو موضوعاتو څخه له یوې ارزښتمنې سکالو څخه سترګې پټې کړو او ټول بهیر منفي تلقي کړو، ځکه پښتو اوس د ښوونځي، پوهنتون، رسنیو، دولتي ادارو، ساینس، ټکنالوژۍ او انټرنټ ژبه ده، نو ځکه نه یواځې د نویو کلمو جوړول، اړتیا ده؛ بلکې ډېر جدي او مبرم ضرورت دی. که موږ د ګاونډیو هېوادونو ژبو ته وګورو هغوی د نورو برخو تر څنګ د خپلې ژبې د پرمختګ لپاره نیولوګیزم ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. په ایران کې د نیولوګیزم په برخه کې ځانګړی فرهنګي مرکز یا هم د دوی په ژبه (فرهنګستان سوم) منظم کار کوي، چې په هره برخه کې

نوې جوړونې وکړي. د دې تر څنګ ځینې تلویزیوني چینلونه دې ته مؤظف شوي دي چې دغه نوي جوړ شوي لغتونه او کلمې په ټولنه کې دود او استعمال کړي.

کله چې مې په دې څېړنیزه موضوع باندې څېړنه پیلوله، نو د هرې څېړنې د بشپړولو په څېر مې په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم په برخه کې د لیکل شوو آثارو د موندلو هڅې پیل کړې، ځینې کتابونه او خورې ورې لیکنې مې پیدا کړې، خو څومره چې موضوع پراخه او مهمه ده، په هغه پیمانه آثار موجود نه وو.

که وګورو د نویو لغتونو د جوړولو په میدان کې ډېرو کسانو خپل ذوق او استعداد ازمویلی دی او نوي لغتونه یې جوړ کړي دي، خو کله چې په دې برخه کې د تدوین شوې تیوري او اصولو د موندلو په لټه کې شو، متأسفانه کار په نشت حساب دی او له دې څخه دا څرګندېږي چې زموږ له څو مشرانو استادانو او ځوانانو پرته نور ټول په اماتور یا غیر مسلکي او تخصصي توګه دې ډګر ته ورغلي دي او په خپل سر نوې جوړونې کوي او بیا نو دا په پښتو ژبه خپل ستر احسان ګڼي، خو هر کار چې سیستماتیک او د اصولو له مخې نه وي، د هغه کار، د ګټې پر ځای زیان زیات وي.

بله ستره نیمګړتیا دا ده چې په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم بهیر تر ډېره په انفرادي ډول مخ ته وړل کېږي. په انفرادي توګه د ځینو لیکوالانو او څېړونکو له لوري څه نا څه کارونه تر سره شوي دي، خو د علمي مرکزونو او پوهنتونونو له خوا د نیولوګیزم په ډګر کې ډېر څه نه تر سترګو کېږي او ځینو کسانو چې نوي لغتونه جوړ کړي دي، هغه ډېر د نیولوګیزم له معیارونو سره اړخ نه لګوي، ځکه نو زیاتره نوي جوړ شوي لغتونه یواځې په کتابونو کې پاتې شوي دي، د ټولنې او اولس خولو ته یې لار نه ده موندلې او یا هم دا غیرمنظمې جوړونې د دې لامل ګرځېدلې

دي چې د یوه لغت لپاره په پښتو ژبه بېلابېل معادل لغتونه جوړ شوي او یو ډول گډوډي یې منځ ته راوړې ده.

هغه چا چې د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې د اصولو او تیورۍ په رڼا کې عملاً د پښتو نیولوگېزم په برخه کې نوې جوړونې کړې دي، هغه پوهاند دکتور مجاور احمد زیار دی. هر بشري کار له نیمگړتیاوو څخه خالي نه وي، خو په هره برخه کې د اساساتو او اصولو را منځ ته کول اړین دي، نو کله چې موږ په پښتو ژبه کې د نیولوگیزم په اړه د تیورۍ او اساساتو د موندلو هڅه کوو، نو د پوهاند زیار له نامه او کارونو سره به مخامخ کېږو.

که موږ غواړو چې پښتو ژبه د نړۍ له نورو ژبو سره سیاله کړو، نو په هره برخه کې علمي کارونو او څېړنو ته اړتیا ده، چې متأسفانه تر اوسه پورې لا ډېر علمي موضوعات ناسپړلي پاتې دي.

که له یوې خوا د پښتو نیولوگیزم په برخه کې اوس څو د گوتو په شمېر کسان کار کوي او په مقابل کې یې بیا ځینې نورو لیکوالانو د مخالفت مورچل نیولی او نیوکې پرې کوي، نو ویلای شو چې په دې ډول د پښتو نیولوگیزم په برخه کې د پام وړ کار نشي ترسره کېدای.

نیولوگیزم د ژبپوهنې له هغو موضوعاتو څخه دی چې انفرادي کارونه ډېر اغېزناک نشي تمامیدای، په دې برخه کې په لویه کچه د علمي ـ تحقیقي مرکزونو د ایجادولو اړتیا ده، چې له یوې خوا د نیولوگیزم په برخه کې تیوري او اصول ټولنې ته وړاندې کړي او له بلې خوا په عملي توگه د ژبپوهنیزو اصولو او اساساتو په رڼا کې نوې جوړونې وکړي او کومې جوړونې چې د اصولو پر اساس وي، هغه د ټولنې له خوا نه هم ښې استقبال او منل کېږي.

**د څېړنې اهميت او مبرميت:** پـه پښـتو ژبـه کـې چـې څـه ډول اړتيـا وه/ ده، هغسې د نيولوګيزم بهير مخ ته نه دی ورل شوی. په بېلابېلو وختونو کې يې د مـنظم کېدو او په ښه ډول د غوړېدو هڅې شوې دي، خو د نـورو برخـو پـه څېـر پـر دې برخه هم د هېواد سياسي او ټولنيزو حالاتو او پېښو سيوری غورځـولی دی. پـه دې برخه کې تر اوسه پورې موږ د سيمې د هېوادونو پـه کچـه هـم مرکزونـه، څېړنيـزې ادارې او دې برخې ته ځانګړې شوې رسنۍ نه لرو، بله خبره دا ده چـې کـه علمـي مرکزونه وي او که نه وي په ژبه کې د نويو لغتونـو د جوړولـو بهيـر نـه درېږي او د بېلابېـلو برخو متخصصان او ځانګـوال د خپــلو اړتيــاوو د پـوره کولـو لپـاره نـوي لغتونه جوړوي او اوس هم په عملي توګه په انفـرادي بڼـه پـه پښـتو ژبـه کـې نـوې جوړونې کېږي، نو د څېړنـې اهميـت او مبرميـت پـه دې کـې دی چـې لـږ تـر لـږه وکولای شو هغو کسانو ته چې نوې جوړونې کوي څه نـا څـه لاره جوتـه شي او د نيولوګيزم د تيورۍ او اصولو په اړه معلومـات ولـري او کـومې نـوې جـوړونې چـې کېږي، هغه د ژبپوهنې د اصولو او د پښتو ژبې له طبيعي جوړښت سره سمې وشي.

**د څېړنې هدف:** که څه هم د نويو لغتونو او کلمو د جوړولو بهير د ژبې لـه پيدايښت سره يوځای را روان دی او تر څو چـې ژبـې وي، دا بهيـر بـه ورسره مـل وي، ځکه په ژبه کې وخت په وخـت نـوي مفهومونـه مـنځ تـه راځـي او د هغـو د نومونې لپاره نويو لغتونو او کلمو ته اړتيا ده، خو د معـاصرې ژبپـوهنې پـه مـنځ تـه راتګ سره لکه د نورو علومو په څېر په ژبه کې هم د نويو لغتونو د جوړولو لپاره د نيولوګيزم اصطلاح وکارول شـوه او پـه دې برخـه کـې منظمـې تيـورۍ او نظريـات وړاندې شول، نو زمـوږ د څېړنـې هـدف او موخـه دا ده چـې پـه پښـتو ژبـه کـې د نيولوګيزم بهير د ژبپوهنې د اصولو او قاعدو په رڼا کې وڅېړل شي.

**د څېړنې میتود:** د موضوعاتو په سپړلو او بشپړولو کې له تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

په دې څېړنه کې د نیولوګیزم په اړه په پنځو څپرکو کې تر بېلابېلو سرلیکونو لاندې بحثونه شوي دي چې دلته یې په مختصره توګه تشریح کوو.

په لومړي څپرکي کې له معمول سره سم د موضوع په شالید خبرې شوې دي او په دې اړه رڼا اچول شوې چې په پښتو ژبه کې د نیولوګیزم په اړه څومره کار شوی دی او کوم آثار چې په دې برخه کې لیکل شوي، معرفي شوي دي، په مثبتو او منفي اړخونو یې رڼا اچول شوې ده.

د څېړنې دویم څپرکی په ژبه کې د نیولوګیزم په اړه د ژبپوهنې دریځ ته ځانګړی شوی دی، د نیولوګیزم په پېژندنه، ارزښت او اړتیا خبرې او بحثونه شوي دي.

په درېیم څپرکي کې د نیولوګیزم تاریخي بهیر ته لنډه کتنه شوې ده. د پښتو نیولوګیزم په برخه کې په انفرادي هڅو، د علمي مرکزونو او فرهنګي ټولنو په هڅو رڼا اچول شوې ده او همدارنګه په نظامي برخه کې د نیولوګیزم بهیر څېړل شوی دی. نیولوګیزم او د ژبې د طبیعي جوړښت پر ځرنګوالي خبرې شوې دي او د نیولوګیزم د دوام پر بهیر هم بحث شوی دی.

په څلورم څپرکي کې د ژبې پر لغوي زېرمه باندې د نیولوګیزم د اغېزو په اړه خبرې شوې دي او همدارنګه پر دې موضوع هم بحث شوی چې د پردیو کلمو ژباړه او بدلون نیولوګیزم ګڼل کېږي او که نه؟ د څپرکي په وروستۍ برخه کې د هغو نویو جوړو شویو کلمو چې تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې منل شوې دي، لست راوړل شوی دی.

پنځم څپرکی په ارخاییزم باندې د نیولوګیزم اغېزو ته ځانګړی شوی دی. د ارخاییزم پېژندنه وړاندې شوې ده. د ارخاییزم او نیولوګیزم تر منځ په اړیکو بحث شوی او همدارنګه په ارخاییزم کې د هېستوریزم د پروسې په پېژندنه خبرې شوې دي.

دا څېړنه په علمي پایلې، وړاندیزونو او د مأخذونو د فهرست په راوړلو سره پای ته رسېږي.

یادښت: د دې علمي ـ څېړنیز اثر لومړنی عنوان «په پښتو ژبه کې منل شوی نیولوګیزم د ژبپوهنې له نظره» و، خو کله چې اثر د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د نشراتي کمیسون له خوا د وروستي نظر او کتنې لپاره ایډیټور ته وسپارل شو، نو د کتاب له ایډیټور څېړنوال وجیه الله شپون سره په مشوره د لنډون او اختصار لپاره د اثر عنوان تغییر شو چې اوسنی عنوان یې (پښتو نیولوګیزم او ژبپوهنه) دی.